# سریزه:

برسالي ټاکنې د رأی ورکوونکو د اغیزناکې روزنیزې برنامې غوښتنه کوي. دا ډول برنامه له رأی ورکوونکو سره مرسته کوي چې د ټاکنو له بهیر څخه خبر شي. دا لارښود هم یو له هغو وسایلو څخه دی چې د رأیه ورکولو په شرایطو پوره وګړي له خپل دیموکراتیک حق څخه خبروي چې باید د خپلو مشرانو د ټاکلو د فرصت تر لاسه کولو په موخه ځانونه ثبت او د رأی ورکولو کارتونه تر لاسه کړي.

دا چې په شرایطو پوره وګړي څنګه، چیرته او څه وخت خپله نوم ثبتونه وکړي، باید هغوی ته سم او روښانه معلومات ورکړل شي.

**هدف:**

دا لارښود د رأی ورکولو په شرایطو پوره افرادو د روزنیزو موادو یوه برخه ده او د رأی ورکولو په شرایطو د برابرو افرادو له پاره د روزنیزو فعالیتونو د ترسره کولو یوه عمده سرچینه شمیرل کیږي. دا لارښود په حقیقت کې له هغه فلیپ چارټ څخه د ګټې اخیستنې له پاره دی چې د ګټه اخیستونکو د ذوق، اړتیا او صلاحیت په پام کې نیولو سره طرحه شوی دی. د فلیپ چارټ مخونه د ۱۳۹۲ش کال د رأی ورکوونکو د نوم ثبتونې د بهیر په هکله د عمده او معلوماتي پیغامونو لرونکي دي.

له دې لارښود څخه ګټه اخیستنه اسانه او د تعدیل وړ ده. کیدای شي له دې څخه له یو لړ تمرینونو او سپارښتنو سره چې د نمونو په قالب کې به وکارېږي، د یوه عمومي ترکیب په توګه ګټه واخیستل شي.

### د عامه پوهاوي د مبلغانو نقش:

د عامه پوهاوي مبلغ باید د دې جوګه وي چې د ټاکنیزو معلوماتو په هکله روزنیزې تجربې رامنځ ته کړي. همدارنګه باید خلک په ځانګړې توګه د نوم ثبتونې په شرایطو پوره کسان د نوم ثبتونې له بهیر او د هغه له اهمیت څخه او له دې څخه خبر کړي چې ولې باید خلک د راتلونکو ټاکنو له پاره خپل نومونه ثبت کړي.

د عامه پوهاوي ټول مبلغان باید د دې فلیپ چارټ مواد او محتوی کوم سیاسي ګوند، ولې یا نوماند ته له تمایل پرته په بې پرې توګه وړاندې کړي.

**مخامخ غونډې:**

مخامخ غونډې یو له هغو عمده تخنیکونو څخه دي چې د عامه پوهاوي مبلغان د هغې له لارې کولی شي د نوم ثبتونې د بهیر تعلیماتو ته پراختیا ورکړي. په دې غونډو کې د عامه پوهاوي مبلغ اړوند معلومات وړاندې کوي او خپلو مخاطبینو ته د دې فرصت ورکوي چې له دوی څخه پوښتنه وکړي. مسلماً د «د رأی ورکولو په شرایطو پوره افرادو د روزنې فلیپ چارټ» په خیر بصري روزنیزو موادو څخه ګټه اخیستنه د معلوماتو د ښوره تفهیم او یادولو له پاره خورا مهمه ګڼل کیږي.

د عامه پوهاوي مبلغان له خلکو سره د مخامخ غونډو د دایرولو او د رأی ورکولو په شرایطو پوره افغان افرادو ته د سریښپاڼو، رسالو، او جزوو د ویش مسؤلیت لري. په دې غونډو کې چې ښا او ځوا یو ساعت وخت نیسي، باید له ۱۵ څخه تر ۳۰ کسانو پورې ګډون وکړي. د عامه پوهاوي هر مبلغ باید هره ورځ لږ تر لږه ۲ او زیات نه زیات ۴ غونډې وکړي. یادې دې نه وي چې مخامخ غونډې باید په غیر رسمي ډول تر سره شي.

### د عامه پوهاوي مبلغان باید:

- ټول ګډونوال په بحث کې دخیل کړي؛
- ګډونوال، په ځانګړې توګه ښځې او هغه کسان چې د لومړي ځل لپاره د نوم ثبتونې په بهیر کې ګډون کوي، پوښتنو کولو ته وهڅوي؛
- د ګډونوالو تجربې په پام کې ونیسي؛
- ځایي فرهنګ او دودونه په پام کې ونیسي؛
- ساده او څرګندې خبرې وکړي؛
- غونډه له ګډونوالو څخه د یوه د نظر په څرګندولو پای ته ورسوي؛
- جزوه، بروشور او معلوماتي پاڼې پر ګډونوالو وویشي.

### مخامخ فعالیتونه څنګه پیل کړو؟

**د غونډې پیل:**

- د خپل نوم، د هغې ادارې چې کار پکې کوئ (د ټاکنو خپلواک کمیسیون) او د خپلې لیدنې د هدف په څوړلو سره ځان ور وپیژنئ؛
- د خپلې غونډې په هکله هغوی ته معلومات ورکړئ؛
- له ګډونوالو هم وغواړئ چې ځانونه معرفي کړي.
- ګډونوال باید وهڅول شي چې خپل نظریات د سره په ډاډه زړه شریک کړي او خپلې پوښتنې مطرح کړي. همدارنګه یو بل ته درناوی ولري او هیڅ کس باید پر غونډې برلاسی و نه لري.
- له خپلو ګډونوالو سره او د هغوی تر منځ د باور روحیه، او همدارنګه له خپلې ولې سره دې اړیکې جوړې کړئ؛ د

**بیلګې په توګه:**

- o په دقیقه توګه غیر اینتوړل او د غونډې نه اخلالول؛
- o د مبلغ په وسیله د ګډونوالو د جملو ترتیب (عبارت بندي)؛
- o د هغو مسئلو په هکله د ګډونوالو له پوهیدنې څخه ځان باوري کول چې تاسې یې مطرح کوئ؛
- o د سترګو د اړیکو ساتل او د بدن له حرکتونو څخه د خپل پیغام د رسولو له پاره ګټه اخیستل؛
- o له ګډونوالو سره د خپلو شخصي تجربو شریکول.
- د غونډې موضوع او زماني چوکاټ ته چې له مخکې تعیین شوي وي، ژمن پاتې شئ. که چیرې برنامه د بدلې کیدو ور نه وي، تغییر یې ورکړئ؛ له هغو موضوع ګانو تیر شئ چې ګډونوال ور سره دمخه ویر بلد وي. خپل ویر وخت په هغو موضوع ګانو تیر کړئ چې ګډونوال ور سره نابلد وي. لنډه دا چې وخت پر اړینو مسئلو ټینګار ته ځانګړی کړئ.

**د غونډې پای:**

- غونډه په رغنده خبرو، د ګټي نتایجو او د نوم ثبتونې د بهیر د روزنیزو ټکو په لنډیز پای ته ورسوئ؛
- له ګډونوالو وپوښتئ چې آیا غونډه د دوی له پاره معلوماتي او زړه راښکونکي وه او که نه؟
- له ګډونوالو مننه وکړئ؛
- ګډونوال دې ته وهڅوئ چې له دې غونډې څخه زده کړې معلومات د خپلې کورنۍ له غړو او نورو ملګرو سره شریک کړي. د نوم ثبتونې د بهیر او ټاکنو اړوند مواد (سریش پاڼې، جزوې، رسالې او نور) وویشئ؛
- غونډه وارزوئ، د بیلګې په توګه: له ګډونوالو وغواړئ چې پوښتنپاڼې ته ځواب ووایي او یا د هغوی نظر واخلئ. کله چې غونډه پای ته رسوئ، خپلو اهدافو ته د رسیدلو په موخه له ځانه وپوښتئ چې:
- آیا ټولې پوښتنې ځواب شوې او ټولو اندیښنو ته اشاره شوې؟
- آیا د موادو د درک له ورتیا څخه مو ځان ډاډه کړی؟
- آیا ګډونوال له غونډې څخه د پای په احساس سره تللي؟
- آیا له ګډونوالو څخه مو د هغوی د نظرونو په هکله پوښتنه کړې؟

## اساسي قانون د هغو حکمونو او قواعدو ټولګه وي چې د فرد او دولت تر منځ اړيکي تنظيموي؛ د دريګونو ځواکونو صلاحيتونه ټاکي؛ او فردي اساسي آزادۍ تضمينوي.

افغانستان اوس د سولې او ثبات په لور ګام اخيستی. دا بهير هغه وخت پيل شو چې افغان استازي د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو په خبرو کې د ګډون په موخه د جرمني په بُن ښار کې سره راټول شول. د دې خبرو اترو په پايله کې په دې هوکړه وشوه چې افغانستان اساسي قانون او د ټاکنو تر سره کولو ته اړتيا لري.
د بن له پريکړې وروسته په هېواد کې مؤقته اداره واک ته ورسيده. او د هغې په تعقيب انتقالي اداره رامينځ ته شوه. انتقالي ادارې د دې مسؤليت درلود چې د نوي اساسي قانون مسوده ترتيب کړي چې بيا وروسته په ۱۳۸۲ لمريز کال کې د لويې جرګې له خوا تصويب شوه.
د ۱۳۸۳ش کال د ميزان په ۱۸مه په افغانستان کې د ولسمشرۍ له پاره لومړنۍ ديموکراتيکې ټاکنې تر سره شوې او د رأی ورکولو په شرايطو بوره افغانان په دې وتوانيدل چې خپل ولسمشر وټاکي.
د ۱۳۸۴ش کال د سنبلې په ۲۷مه پارلماني ټاکنې تر سره شوې چې په هغې کې افغانانو د خپلې ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو استازي وټاکل. د اساسي قانون له مخې، ملي شورا له دوو مجلسونو څخه جوړه شوې:

۱) ولسي جرګه، چې غړي يې نيغ په نيغه د خلکو له خوا ټاکل کيږي.

۲) مشرانو جرګه، چې غړي يې په نسبي او غيرمستقيمه توګه انتخاب، او د ولسمشر له خوا تعينيږي.

د ولسمشر او ملي شورا له ټاکلو وروسته، د انتقالي ادارې موده پای ته ورسيده او په هيواد کې د ملي دولت سيستم رامينځ ته شو. اوس د رأی ورکولو په شرايطو بوره افغانان چې لا تر اوسه نه وي ثبت شوي، د ۱۳۹۳ لمريز کال کال په ټاکنو کې د ګډون په موخه د نوم ثبتوني مرکزونو او محلاتو ته ځي خو خپل ولسمشر او د ولايتي شوراګانو استازي وټاکي. سربيره پر دي، د ټاکنو قانون لرو چې د ټاکنو اړوندو ټولو چارو تنظيموونکی دی او د اساسي قانون پر بنسټ تدوين، تصويب او نافذ شوی دی.

**عمده پيغامونه:**

- د بن په پريکړې کې د يوه بشپړ استازي دولت د لرلو لپاره د نوي اساسي قانون د ايجاد، او د عمومي ټاکنو د تر سره کولو پريکړه وشوه.
- زمونږ د هيواد اساسي قانون د اساسي قانون په لويې جرګې کې د خلکو د استازو له خوا تصويب شو.
- اساسي قانون د درې ګونو قواوو د صلاحيتونو ټاکونکی ټاکي.
- زمونږ په اساسي قانون کې د افرادو بنسټيز حقونه او ازادۍ تضمين شوي او د ټاکنو تر سره کول هم پيشبيني شوي دي.
- ملي شورا له دوو مجلسو څخه جوړه ده چې عبارت دي له ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه.
- افغانستان دا مهال د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو ټاکنو د نوي دور په لور ګام اخلي.
- د ټاکنو قانون د ټاکنو اړوندو ټولو چارو تنظيموونکی دی.

اساسي قانون د هغو حکمونو او قواعدو ټولګه وي چې د فرد او دولت تر منځ اړيکي تنظيموي، د دريګونو ځواکونو صلاحيتونه ټاکي، او فردي اساسي آزادۍ تضمينوي.



**قانون اساسی مجموعه احکام و قواعدی بوده که روابط فرد و دولت را تنظیم، حدود صلاحیتهای قوای سه گانه را تعیین، و حقوق و آزادیهای اساسی افراد را تضمین میکند**

## د ټاکنو خپلواک کمېسیون د اساسي قانون د ۱۵۶مې مادې پر بنسټ تأسیس شوی او په هېواد کې د هر ډول ټاکنو د ترسره کولو مسؤولیت لري.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون په هېواد کې د هر ډول ټاکنو د تنظیم، تدویر او نظارت مسؤل دی. د ۱۳۸۳ او ۱۳۸۴ لمریز کلونو ټاکنې د ملګرو ملتونو له لارښوونې لاندې، او د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو ټاکنې په خپله د افغانانو له لارښوونې لاندې چې ټولې چارې یې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تنظیم او رهبري کولې، تر سره شوې. اوس د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ۱۳۹۳ل کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنو له پاره چمتووالی نیولی او د ټولو چارو رهبري یې په غاړه ده.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه دولتي اداره ده مګر د هېواد د تقنیني، اجرایوي او یا قضایي ارګانونو له اغېز لاندې نه ده. د ټاکنو له خپلواک کمېسیون سره د نړیوالې ټولنې همکاري شته مګر په بشپړ ډول یوه افغاني اداره ده. د ټاکنو خپلواک کمېسیون، د ټاکنیزو شکایتونو له کمېسیون پرته چې د ټاکنیزو شکایتونو په برخې کې کار کوي، صلاحیت لري چې د ټولو ټاکنیزو موضوع ګانو په هکله پریکړه وکړي.

### د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دوو برخو څخه جوړ دی:

۱) کمېسیون،

۲) دارالانشاء.

کمېسیون له ۷ غړو جوړ دی چې د ولسمشر له خوا د دریو کلونو له پاره ټاکل کیږي. کمېسیون یو نظارتي جوړښت دی چې د اړوندو پالیسیو د طرحه کولو مسؤلیت لري.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون دارالانشاء اداري او اجرایوي برخه ده چې د خپل رئیس له خوا یې لارښوونه کیږي.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون دارالانشاء د دې مسؤلیت لري چې د ټاکنو له قانون، او ټاکنیزو لوایحو او طرزالعملونو سره سمې ټاکنې تنظیم او تر سره کړي. د ټاکنو د خپلواک کمېسیون دارالانشاء د هېواد په ټولو ولایتونو کې دفترونه لري. سره له دې هم د شفافو، عادلانه او آزادو ټاکنو تر سره کول د ټاکنو له خپلواک کمېسیون سره د خلکو او مدني ټولنې همکارۍ ته اړتیا لري.

### عمده پیغامونه:

- د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه دولتي اداره ده مګر د هېواد د تقنیني، اجرایوي او قضایي ارګانونو له اغېز لاندې نه ده.
- د ټاکنو خپلواک کمېسیون مسؤلیت لري چې د ۱۳۹۳ل کال ټاکنې د ټاکنو له قانون، لوایحو او طرزالعملونو سره سمې تر سره کړي.
- کمېسیون له ۷ غړو څخه جوړ دی چې د ولسمشر له خوا د دریو کلونو له پاره ټاکل کیږي چې له دې ولې څخه یې یو رئیس، یو معاون او پنځه غړي دي.
- د ټاکنو د خپلواک کمېسیون دارالانشاء د ټاکنو له قانون، لوایحو او ټاکنیزو طرزالعملونو سره سم د ټاکنو د تر سره کولو او د ټاکنو د اجرایوي چارو مسؤلیت لري.
- د ټاکنو د خپلواک کمېسیون دارالانشاء د هېواد په ټولو ولایتونو کې دفترونه لري.

## کمیسیون مستقل انتخابات براساس ماده ۱۵۶ قانون اساسی تاسیس شده و مسؤول برگزاری هر گونه انتخابات در کشور میباشد



د ټاکنو خپلواک کمېسیون د اساسي قانون د ۱۵۶ مې مادې پر بنسټ تأسیس شوی او په هېواد کې د هر ډول ټاکنو د تر سره کولو مسؤولیت لري.

## مشروع نظام د خلکو د رأیو پر بنسټ جوړیږي چي د خلکو ریښتیني استازي په کي د چارو واکي تر لاسه کوي.

د نظام او حکومت بدلون د هري ټولني اړتیا ده. د دې ډول بدلون بوازیني اسانه او اغیزناکه لاره د ټاکنو تر سره کول او د ټاکلو له حق څخه ګټه اخیستل دي. ځکه چي ټاکني واک ته د رسیدلو له پاره تر سره کیدونکي تاوتریخوالي او کشمکش د پای ته رسولو بوازیني لاره ده. د ټاکنو په بهیر کي د خلکو ګډون ور کسانو ته د واک د سوله ایزي لیږدېدني او د هیواد د ابادي لامل کیږي.

هوا په دیموکراتیکو نظامونو کي د بیلابیلو افکارو او نظریاتو څښتنان ګډون لري. په نورو ټکو کي، په دیموکراسی کي د حکومت په جوړښت کي له یوه څخه زیات ګوندونه برخه اخلي. که غواړو چي زمونږ نظریاتو ته پام وشي، باید د هیواد په سیاسي بهیر کي ونډه واخلو. د هیواد په سیاسي بهیر کي ګډون زمونږ حق نه، بلکي مکلفیت هم دی. په داسي بهیر کي د ګډون له کبله د حکومت په څرنګوالي کي ښه والي راځي. ښه والي وخت ته اړتیا لري. باید صبر وکړو. له حکومت څخه باید فوراً ډیره هیله و نه لرو. د سیاسي لاس ته راوړنو د څارني له مهمو طریقو څخه یوه هم په ټاکنو کي رأیه ورکول دي.

برسیره پر دې، هر ملت د خپلو ارزښتونو او ملي ګټو په پام کي نیولو سره خپل سیاسي او حقوقي نظام جوړوي. زمونږ د هیواد په سیاسي او حقوقي نظام کي اسلامي او ملي ارزښتونه په کلکه په پام کي نیول شوي. ټول ټینګار پر د ملي یووالي او مرکزي نظام پر ټینګښت دی چي د بلي کیدو په صورت کي بې هیواد کوای شي په هر ډګر کي پرمختګ وکړي. د دې نظام ځانګړتیاوي په لاندي ډول دي:

- د هیواد د اتباعو د حقونو په پام کي نیولو تر څنګ د بشر د حقونو وده او پرمختګ؛
- د قانون په وړاندي د هیواد د اتباعو د حقونو او وجایبو مساوات؛
- د افغانستان دولت اسلامي جمهوریت دی او اسلامي شریعت پکي له وضعي قوانینو څخه پورته دی. زمونږ په هیواد کي هیڅ قانون د اسلامي احکامو او معتقداتو خلاف نه شي وضع کیدی.

د افغانستان حقوقي نظام یو داسي نظام دی چي د هغه په سم تفسیر او تطبیق سره زمونږ ملي ستونزې او شخړې هواریدی شي. لنډه دا چي په دیموکراسی کي د ټولو خلکو حقونه او مشخصي ازادي تضمین وي. له همدې کبله ده چي په داسي نظام کي هر کس قانون په پام کي نیسي او که څوک تخلف وکړي، له تعقیب لاندي نیول کیږي.

عمده پیغامونه:

- د دې ډول بدلون بوازیني اسانه او اغیزناکه لاره د ټاکنو تر سره کول او د ټاکلو له حق څخه ګټه اخیستل دي.
- د ټاکنو په بهیر کي د خلکو ګډون ور کسانو ته د واک د سوله ایزي لیږدیدني او د هیواد د ابادي لامل کیږي.
- په ولس‌محوره نظامونو کي له ټولو اتباعو سره یو ډول چلن کیږي.
- په دیموکراتیکو نظامونو کي د بیلابیلو فکرونو او نظرونو څښتنان د ګډون حق لري.
- په داسي بهیر کي د ګډون له کبله د حکومت په څرنګوالي کي ښه والي راځي. ښه والي وخت ته اړتیا لري. باید صبر وکړو. له حکومت څخه باید فوراً ډیره هیله و نه لرو.
- د سیاسي لاس ته راوړنو د څارني له مهمو طریقو څخه یوه هم په ټاکنو کي رأیه ورکول دي.
- د ولس‌محوره نظام پنځه ستري ځانګړتیاوي عبارت دي د بیان له آزادۍ، د ګوندونو او تنظیمونو د جوړولو له حق، د لاریونونو او اعتصابونو له حق، د قواوو تفکیک او د آزادو او عادلانه ټاکنو له تر سره کولو څخه.

انتخابات

**مشروع نظام د خلکو د رأیو پر بنسټ جوړیږي چې د خلکو ریښتیني استازي په کې د چارو واکي تر لاسه کوي.**





**نظام مشروع براساس رأی مردم تأسیس میشود که در آن نماینده گان واقعی مردم زمام امور را در دست میگیرند**

## یوازې هغه څوک د ټاکنو په ورځ رأیه ورکولی شي چې د رأی ورکولو کارت ولري.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رأی ورکوونکو د نوم ثبتوني لومړی پړاو د ۱۳۹۲ش کال د جوزا په ۴مه نیټه د ولایتي مرکزونو په کچه پیلوي، څو وکولی شي د ۱۳۹۳ش کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنو او د ۱۳۹۴ ش کال پارلماني ټاکنو له پاره په شرایطو پوره افرادو بو د پام وړ فهرست چمتو کړي، او همدارنګه، نویو رأی ورکوونکو ته د رأی ورکولو له مشخصو مرکزونو سره اړیکه ورکړي. د دې بهیر دوهم پړاو چې د ولسوالیو د مرکزونو په کچه به وي، د روان کال د اسد په ۴مه نیټه پیلیږي او د میزان په ۴مه نیټه پای ته رسیږي.

**د رأی ورکولو د کارت د تر لاسه کولو شرایط:**

۱) د افغانستان ټول اتباع چې د نوم ثبتوني په وخت کې ۱۷ کلن وي او یا هم د ۱۳۹۳ کال د حمل تر ۱۶مې پورې ۱۸ کلن کیږي.

۲) د افغانستان ټول هغه اتباع چې ۱۸ کلن او یا له دې پورته عمر ولري او په محکمیو نوم لیکنو کې یې ګډون نه وي کړی.

۳) د افغانستان ټول اتباع چې په محکمیو نوم لیکنو کې یې خپل نومونه ثبت کړي وي، مګر محکمۍ ټاکنیزه حوزه (ولایت/ولسوالۍ) یې بدله کړې وي او غواړي چې په نوې ټاکنیزې حوزې کې نوم ثبتونه وکړي.

۴) د افغانستان ټول هغه اتباع چې په محکمیو نوم لیکنو کې یې ځانونه ثبت کړي وي، مګر د رأی ورکولو کارت یې ورک شوی او یا په داسې توګه تخریب شوی وي چې هویت یې نه شي ترې پېژندل کیدی.

۵) هغه مهاجر افغانان چې په وروستیو کې هیواد ته راستانه شوي وي.

**د نوم ثبتوني محلات**

۱) د نوم ثبتوني بهیر به د مرکزونو/محلاتو په کچه تر سره شي.
- د ولایتونو په کچه (لومړی پړاو)
- د ولسوالیو په کچه (دوهم پړاو)

۲) د کوچیانو د نوم ثبتوني له پاره به د نوم ثبتوني ځانګړي محلات موجود وي.

۳) د ښځینه وو او نارینه وو له پاره به د نوم ثبتوني ځانګړي محلات ایجاد شي.

د رأی ورکولو له کارت څخه ګټه اخیستنه

۱) هغو کسانو ته به چې د ۱۳۹۲ کال د نوم ثبتوني په بهیر کې ځانونه ثبت کړي، د نوم ثبتوني کارت ورکول شي څو یې د ټاکنو په ورځ د رأی ورکولو کارکوونکو ته وښیي.

۲) هغه اشخاص چې د نوم ثبتوني په محکمي بهیر کې یې نوم ثبتونه نه وي شوې او تر اوسه په هماغې ټاکنیزې حوزې (ولایت/ولسوالۍ) کې اوسیږي، د نوم ثبتوني له خپلو پخوانیو کارتونو څخه په ټاکنو کې ګټه اخیستلی شي.

۳) هغه کسان چې بریښنایي تذکره ورکړل شوې وي، هم رأیه ورکولی شي.

**تنها کسی میتواند در روز انتخابات رأی دهد که کارت رأیدهی داشته باشد**






یوازې هغه څوک د ټاکنو په ورځ رأیه ورکولی شي چې د رأی ورکولو کارت ولري.

## د نوم ثبتوني موده

۱) د نوم ثبتوني بهير به په ټول هيواد کې د قانون او د ټاکنو د خپلواک کميسيون له مقرراتو سره سم په ټاکلي وخت پيل شي.

۲) د نوم ثبتوني ټول مرکزونه او محلات به د نوم ثبتوني د بهير په موده کې خلاص وي.

د نوم ثبتوني د محلاتو کاري وختونه

۱) د نوم ثبتوني محلات، د جمعې له ورځو پرته، هره ورځ د سهار په اتو بجو خلاصيږي او د مازيګر په څلورو بجو بنديږي.

۲) د نوم ثبتوني کارکوونکي بايد هره ورځ د نوم ثبتوني د محل د ترتيب او تنظيم په موخه د سهار په اوه نيمو بجو خپلو دندو ته حاضر شي.

۳) د نوم ثبتوني کارکوونکي بايد د مازيګر په پنځو بجو (که چيرې ټول هغه مراجعين چې د مازيګر په څلورو بجو په کتار کې ولاړ وي، ثبت شوي وي، او د نوم ثبتوني ټول مواد بې بسته بندي کړي/ازيرمه کړي وي) له خپلو دندو رخصت شي.

## عمده پيغامونه:

- د نوم ثبتوني ټول مرکزونه او محلونه به د رای ورکوونکو د نوم ثبتوني په ټول بهير کې خلاص وي.
- د ښځينه او نرينه وو د نوم ثبتوني له پاره د نوم ثبتوني جلا جلا محلونه جوړ شوي، او د کوچيانو له پاره د نوم ثبتوني خاص ځايونه شتون لري.
- د افغانستان ټول اتباع چې ۱۸ کلن او يا د هغې څخه لوړ وي، او په پخوانيو نوم ليکنو کې يې ګډون نه وي کړي، کولی شي د رأی ورکولو له پاره نوم ثبتونه وکړي.
- د هيواد ټول هغه اتباع چې د نوم ثبتوني پر مهال ۱۷ کلن وي او يا هم د ۱۳۹۳ کال د ورې د مياشتې تر ۱۶ نيټې پورې ۱۸ کلن کيږي، کولی شي خپل نومونه ثبت کړي.
- د هيواد ټول هغه اتباع چې په پخوانيو نوم ليکنو کې يې نوم ثبتونه کړې وي، خو خپل ټاکنيز حوزې ته يې بدلون ورکړی وي، کولی شي خپل نوم په نوي ټاکنيز حوزې کې ثبت کړي.
- د هيواد ټول هغه اتباع چې په پخوانيو نوم ليکنو کې يې نوم ثبتونه کړې وي، خو د رای ورکوونې کارت يې ورک شوی وي، او يا په داسې ټوګه تخريب شوی وي، چې د هويت تثبيت پرې نشي کيدای، هغوی هم کولی شي چې بيا دې خپل نومونه ثبت کړي.

## د نوم ثبتوني له پاره هغه سندونه وښئ چې رأی ورکولو په شرایطو د برابر افغان په توګه ستاسو هویت څرګندوي.

هغه اسناد چې د رأی ورکولو د کارت د اخیستو پر مهال د یوه افغان په توګه ستاسو هویت ښکارندوی کولی شي په لاندې ډول دي:

۱) د هیواد د تابعیت تذکره،
۲) د دولت د کارکوونکي په توګه د سند لرل،
۳) د هیواد پاسپورټ،
۴) د دریوري لایسنس
۵) د تجارت تصدیق،
۶) د متعلم/محصل کارت،
۷) د روغتیایي بیمې اسناد،
۸) د ځمکې د ملکیت اسناد/قباله
۹) ترخیص — د عسکري خدمت د بشپړولو ثبوت،
۱۰) تصدیق — داسې سند چې باید د دولت د دوو کارکوونکو لخوا لاسلیک شوی وي، چې د وګړي د تابعیت تصدیق کوي،
۱۱) د واده تصدیق (نکاح نامه)
۱۲) د UNHCR لخوا د مهاجرت څخه د راستنیدو فورمه،
۱۳) د افغانانو له پاره د اقامت کارت (د پاکستان یا ایران د هیوادونو لخوا)،
۱۴) د رأی ورکولو پخوانی کارت (د هغو کسانو له پاره چې غواړي د کارت مثنی تر لاسه کړي)،
۱۵) د کلي یا کنډ د ملک او وکیل تصدیق، چې د غوښتونکي هویت د هغه نوم، د پلار نوم، د نیکه نوم، د زیږیدو نیټه، او د استوګنې اوسني ځای تایید کړي.

### د هویت د تثبیت نور شواهد په لاندې ډول دي:

۱) د کورنۍ د غړي لخوا د شهادت ورکول چې دوایې چې غوښتونکی یې د کورنۍ غړی او د افغانستان تابعیت لرونکی دی.
۲) د کورنۍ غړی چې غواړي د غوښتونکي پر شرایطو پوره والی تصدیق کړي، باید پخپله د رأی ورکولو په محل کې شتون ولري.
۳) د نوم ثبتوني د مرکز مدیر او د نوم ثبتوني د محل رییس هم کولی شي د غوښتونکي پر شرایطو پوره والی تصدیق کړي. که نه نو، د غوښتونکي څخه غوښتنه کیږي چې د کلي یا کنډ د وکیل یا ملک تصدیق دې وړاندې کړي، د دې تر څنګ، د نوم ثبتوني د محل رییس او د نوم ثبتوني د مرکز مدیر دي باید د وکیل او ملک نومونه په وړاندې شوي لست کې وګوري.

### عمده پیغامونه:

- د رأی ورکولو له پاره د نوم ثبتوني پرمهال ضرور ده چې باید هغه اسناد وړاندې کړی چې د افغان په توګه ستاسو د هویت ښکارندوی وي.
- هغه اسناد چې د رأی ورکولو د کارت د ترلاسه کولو پرمهال د یوه افغان په توګه ستاسو هویت ښکاره کولی شي، عبارت دي له: د هیواد د تابعیت تذکره، د دولت د کارکوونکي په توګه د سند لرل، د هیواد پاسپورټ، د عسکري خدمت ترخیص، د ځمکې د ملکیت اسناد، د مهاجرینو د بیرته ستنیدلو فورمې چې د ملګرو ملتونو د مهاجرینو د عالي کمیشنرۍ لخوا ورکړل شوي وي، او نور.
- د کلي یا کنډ ملک یا وکیل هم د غوښتونکي تابعیت تاییدولی شي.
- د کلي یا کنډ د ملک او وکیل تصدیق، چې د غوښتونکي هویت د هغه نوم، د پلار نوم، د نیکه نوم، د زیږیدو نیټه، او د استوګنې اوسني ځای تایید کړي.
- د هویت د تثبیت نور شواهد دا کیدی شي چې د کورنۍ غړی یې شهادت ورکړي چې غوښتونکی یې د کورنۍ غړی دی.
- د کورنۍ غړی چې غواړي د غوښتونکي پر شرایطو پوره والی تصدیق کړي، باید پخپله د رأی ورکولو په محل کې شتون ولري.

د نوم ثبتوني له پاره هغه سندونه وښئ چې رأی ورکولو په شرایطو د برابر افغان په توګه ستاسو هویت څرګندوي.





**برای ثبت نام باید اسنادی ارائه کنید که موید هویت شما به حیث افغان واجد شرایط رأیدهی باشد**

مراکز و محلات ثبت نام برای انتخابات در جاهایی تاسیس شده که زنان، افراد معلول و کوچیها به آن به آسانی دسترسی دارد



د ټاکنو له پاره د نوم ثبتوني مرکزونه او محلونه په داسي ځايونو کي جوړ شوي، چي د ښځو، معلولو وګړيو او کوچيانو لاس ورته په آسانه رسيږي.

# د ټاکنو له پاره د نوم ثبتوني مرکزونه او محلونه په داسي ځايونو کي جوړ شوي چي د ښځو، معلولو وګړيو او کوچيانو لاس ورته په آسانه رسيږي

د نوم ثبتوني مرکز

د نوم ثبتوني مرکز هغه ځای دی چي د نوم ثبتوني یو یا ډیر محلونه په هغه کي موقعیت لري. دغه ځای کیدی شي یو تعمیر او یا هم د تعمیر یوه برخه وي او د نوم ثبتوني د مرکز د مدیر لخوا بي څارنه کيږي. د نوم ثبتوني محل د نوم ثبتولي په یوه مرکز کي د یوه مشخص موقعیت څخه عبارت دی چي په هغه کي نوم ثبتونه صورت مومي. دغه محل کولی شي چي یوه کوټه او یا یو تعیين شوی ځای وي چي د نوم ثبتوني د ټولو تسهیلاتو باندي مجهز وي. د نوم ثبتوني په مرکزونو کي د ښځو او سړيو له پاره جلا جلا محلونه جوړ شوي دي. دغه محلونه د ښځينه او نارينه محلونو په توګه په نښه شوي دي.

## د نوم ثبتوني محل ته د وګړو د ورتګ بهیر

١. په یوه وخت کي باید دوه تنه نوم لیکونکي د نوم ثبتوني محل ته دننه شي.
٢. د نوم ثبتوني په هر پړاو کي باید په یوه وخت کي صرف یو تن شتون ولري.
٣. د نوم ثبتوني د محل رییس باید داسي تدابیر تر لاس لاندي ونیسي چي نوبت یکي مراعت شي او د نوم ثبتوني په فعالیتونو کي خنډ رامنځته نشي.
۴. د معلولیت لرونکي نوم لیکونکي چي مرستي ته اړتیا لري، کولی شي د کورني د یوه غړي، خپلملګري‌اویاباوري وګړي سره د نوم ثبتوني محل ته دننه شي. هغوی کولی شي د نوم ثبتوني د محل د رييس څخه د مرستي غوښتنه وکړي.
۵. د نوم ثبتوني کارکوونکي باید ډاډ تر لاسه کړي چي د نوم ثبتوني په بهير کي دي باید د معلولیت لرونکي وګړو، مریضانو، سپین ږیرو، حامله ښځو او د تي رودونکو ماشومانو لرونکو ښځينه وو سره مرسته او همکاري وشي.

## د امنیت تامینول

١. د نوم ثبتوني د مرکز مدیر د نوم ثبتوني په محلونو او مرکز کي د نظم او ترتیب د ساتلو مسؤلیت لري.
٢. تر څو چي د مرکز دننه امنیتي کارکوونکو ته اړتیا و نه لیدل شي، دوی به د مرکز څخه دباندي پاته وي. او ک چي حالات تر کنټرول لاندي راغلل، دوی به د نوم ثبتوني د مرکز څخه دباندي ووځي.
٣. هغه وګړي چي په تهدیدآمیزه یا متجاوزه توګه چلن کوي او یا د رییس د لارښوونو سره سم عمل نه کوي، به د نوم ثبتوني د رییس په غوښتني د امنیتي کارکوونکو لخوا د نوم ثبتوني د مرکز څخه وویستل کيږي.
۴. امنیتي کارکوونکي باید په هر ډول حالاتو کي په بي پلیتوب سره چلن وکړي. هغوی نشي کولی د بیروونکو اعمالو تر سره کولو کي چي د نوم ثبتوني په بهیر کي خنډ رامنځته کوي، برخه واخلي.

لنډه دا چي د امنیتي مؤظفینو څخه سربیره ، کوم چي د نظم د تامینولو له پاره راغوښتل شوي وي، هیڅوک نشي کولی چي د وسلي سره د نوم ثبتوني محل یا مرکز ته دننه شي.

## عمده پیغامونه

- د نوم ثبتوني محلونه به د جمعي د ورځي پرته ، نور هره ورځ د سهار په ۸ بجو خلاصيږي او د مازديګر په ۴ بجو به تړل کيږي.
- د نوم ثبتوني مرکز هغه ځای دی چې د نوم ثبتوني يو يا ډير محلونه په هغه کې موقعيت لري.
- د نوم ثبتوني محل د نوم ثبتوني په يوه مرکز کې د يوه مشخص موقعيت څخه عبارت دی چې په هغه کې نوم ثبتونه صورت مومي.
- د نوم ثبتوني په مرکزونو کې د ښځو او سړيو له پاره جلا جلا محلونه جوړ شوي دي. دغه محلونه د ښځينه او نارينه محلونو په توګه په نښه شوي دي.
- د معلوليت لرونکي نوم ليکونکي چې مرستې ته اړتيا لري، کولی شي د کورنۍ د يوه غړي، خپل ملګري او يا بل د باور وړ وګړي سره د نوم ثبتوني محل ته دننه شي. همدوی کولی شي د نوم ثبتوني د محل د رييس څخه د مرستې غوښتنه وکړي.
- د نوم ثبتوني کارکوونکي بايد داد تر لاسه کړي چې د نوم ثبتوني په بهير کې دې بايد د معلوليت لرونکي وګړو، مريضانو، سپين ږيرو، حامله ښځو او د تې رودونکو ماشومانو لرونکو ښځينه وو سره مرسته او همکاري وشي.
- هغه وګړي چې په تهديدآميزه يا متجاوزه توګه چلن کوي او يا د رييس د لارښوونو سره سم عمل نه کوي، په د نوم ثبتوني د رييس په غوښتنې د امنيتي کارکوونکو لخوا د نوم ثبتوني د مرکز څخه ويستل کيږي.
- امنيتي کارکوونکي بايد په هر ډول حالاتو کې په بې پلټوب سره چلن وکړي. همدوی نشي کولی د بيرونکو امبالو تر سره کولو کې چې د نوم ثبتوني په بهير کې خنډ رامنځته کوي، برخه واخلي.

د نوم ثبتونې بهیر ساده دی، ډېر وخت مو نه نیسي.



روند ثبت نام ساده بوده، وقت شما را بسیار نمیگیرد

## د نوم ثبتوني بهير ساده دی؛ ډېر وخت مو نه نيسي.

د نوم ثبتوني بهير په درې پړاوونو کې پلې کيږي، چې عبارت دي د کتار د کنټرولولو، د مرکې او عکس اخيستلو، د فورمې د ډکولو او د کارت د پوښولو څخه.

### لومړی پړاو: د کتار کنټرولول

١. غوښتونکي د نوم ثبتونې د محل څخه د باندې په يوه کتار کې تنظيموي.
٢. د غوښتونکو کتار د نوم ثبتونې د محل د دخولي دروازې څخه پيل او دباندې خواته ادامه مومي.
٣. هغو کسانو ته چې په کتار کې ولاړ دي يادونه کيږي چې د نوم ثبتونې له پاره بايد د خپل هويت د تثبيت اسناد او يا هغه وګړي چې د دوی هويت تضمينوي له ځانه سره ولري.
٤. که چېرې کوم معلول، د ډېر عمر لرونکي وګړي او يا حامله ښځه په کتار کې ولاړ وي، هغه ته اجازه ورکوي چې د کتار په اول سر کې ودريږي.
٥. په يوه وخت کې دوه غوښتونکو(پرته د کورنی د غړي او يا مرستندويه وګړي څخه) ته اجازه ورکول کيږي چې د نوم ثبتونې محل ته ننوځي.
٦. غوښتونکو ته اجازه نه ورکوي چې د ۴ بجو څخه وروسته دې کتار کې شامل شي.او هغو وګړو ته چې د ۴ بجو څخه مخکې په کتار کې ولاړ دي، اجازه ورکړي چې د نوم ثبتونې له پاره دې محل ته ننوتنه شي.
٧. په هغه صورت کې چې عکاس اوزګار وي، غوښتونکي هغه ته ورليږدوي.

### دويم پړاو: مرکه او عکس اخيستل

عکاس/ د هويت د تثبيت مامور، غوښتونکي په ډېر بردبارۍ سره مني او د نوم ثبتونې بهير ورته روښانه کوي. د غوښتونکي د هويت د تثبيت په موخه د هغه/هغې د هويت اسناد څيړي.

•
• د ښځو عکس اخيستنه اختياري ده.

دريم پړاو: د فورمې ډکول او د رای اچونې د کارت پوښول

د نوم ثبتونې مامور په دغه پړاو کې دا لاندې فعاليتونه تر سره کوي:

### عمده پيغامونه

- د نوم ثبتونې بهير په درې پړاوونو کې پلې کيږي، چې عبارت دي د کتار د کنټرولولو، د مرکې او عکس اخيستلو، د فورمې د ډکولو او د کارت د پوښولو څخه.
- د غوښتونکو کتار د نوم ثبتونې د محل د دخولي دروازې څخه پيل او دباندې خواته ادامه مومي.
- هغو کسانو ته چې په کتار کې ولاړ دي يادونه کيږي چې د نوم ثبتونې له پاره بايد د خپل هويت د تثبيت اسناد او يا هغه وګړي چې د دوی هويت تضمينوي له ځانه سره ولري.
- که چېرې کوم معلول، د ډېر عمر لرونکي وګړي او يا حامله ښځه په کتار کې ولاړ وي، هغه ته اجازه ورکوي چې د کتار په اول سر کې ودريږي.
- پس د ۴ بجوغوښتونکو ته اجازه نه ورکول کيږي چې په کتار کې دې شامل شي.او هغه وګړي چې د ۴ بجو څخه مخکې په کتار کې ولاړ دي، کولی شي چې د نوم ثبتونې له پاره دې محل ته ننوتنه شي.
- د هويت د تثبيت مامور، غوښتونکي په ډېر بردبارۍ سره مني او د نوم ثبتونې بهير ورته روښانه کوي.
- کله چې د غوښتونکي پر شرايطو پوره والی تثبيت شو، د هغه څخه غوښتنه کيږي چې په هغه ځای کې چې د عکس د اخيستو له پاره مختص شوی دی ، کښيني.
- نوم ليکونکي ته توصيه کيږي چې خپل د نوم ثبتونې کارت دې په مصوؤنه توګه وساتي او د رای ورکوونې په ورځ دې دغه کارت د رای ورکوونې محل ته له ځانه سره راوړي.

## که ګورئ چې څوک د نوم ثبتونې د بهیر له مقرراتو څخه سر غړوي، وربانديې اعتراض وکړئ او پر ضد یې شکایت درج کړئ.

د یوه غوښتونکي د شرایطو د پوره والي پرخلاف صرف هغه مهال اعتراض تر سره کېدای شي چې هغه افغان نه وي، ۱۷ کلن نه وي او د ټاکنو پر ورځ د ۱۸ کلنۍ عمر نه بشپړوي. پر شرایطو پوره افغانان او د سیاسي ګوندونو استازي کولی شي د یوه غوښتونکي د نوم ثبتونې د تر سره کېدو څخه مخکې پر هغه اعتراض وکړي. اعتراضونه هیڅکله هم نه باید د اوسېدو د ځای پر ارتباط وي. که چېرې غوښتونکی په داسې یو ځای کې مقیم نه وي چېرې چې دغه نوم ثبتونه تر سره کېږي، نو بداسې حال کې دي هغه ته د سم مرکز په اړه لارښوونه وشي. که څوک د یوه غوښتونکي د نوم ثبتونې پر ارتباط اعتراض کوي، نو باید د اعتراض/ د اعتراض د حلولو فورمه ډکه کړي او د نوم ثبتونې د محل رییس ته يې وسپاري. د نوم ثبتونې رییس به د هغه سره په دغه اړوند مرکه تر سره کړي.

د اعتراض مرکه

د اعتراض کولو په صورت کې، اعتراض کوونکی د نوم ثبتونې د محل رییس ته راجع کېږي. د دې خبرې د برسېره کولو له پاره چې آیا اعتراض کوونکي کولی شي اعتراض وکړي او که نه، د نوم ثبتونې د محل رییس د هغه سره مرکه تر سره کوي.

کله چې د رای اچوونې پر شرایطو پوره کوم افغان او یا د کوم سیاسي ګوند استازي په دې باور وي چې د نوم ثبتونې د بهیر په دوران کې د ټاکنو د قانون د موادو، د نوم ثبتونې د لایحې، د نوم ثبتونې د طرزالعملونو، د کارکوونکو د کړندودونو او نورو اړوندو اسنادو چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او یا د هغې د دارالانشاء لخوا تصویب شوي وي څخه تخطي یا سرغړونه تر سره شوې وي، کولی شي خپل شکایتونه درج کړي. شکایتونه هغه مهال درج کېدی شي چې:

- د ټاکنو د قانون، د نوم ثبتونې د لایحې او طرزالعملونو څخه سمه پیروي نه وي شوې؛
- د نوم ثبتونې د کړندودونو څخه تخطي تر سره شوې وي؛
- د نوم ثبتونې کارکوونکو، غوښتونکي ته د نوم ثبتونې د جوپړ د ورانديې کولو څخه انکار کړی وي؛
- مشاهدان، د رسنیو استازي، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکي، امنیتي کارکوونکي او یا نور د دولتي دوایرو کارکوونکي د ټاکنو د قانون، د نوم ثبتونې د لایحې، د نوم ثبتونې د طرزالعمل او د هغوی د لارښوونو څخه په سمه توګه پیروي نه کوي.

څوک کولی شي چې شکایت وکړي؟

د رای ورکوونې د نوم ثبتونې پر شرایطو پوره ټول افغانان او د سیاسي ګوندونو استازي د خپلو ګوندونو په استازیتوب کولی شي خپل شکایتونه درج کړي.

او نورو اړوندو اسنادو څخه تخطي یا سرغړونه تر سره شوې وي، کولی شي خپل شکایتونه درج کړي.

**اگر میبینید کسی از مقررات روند ثبت نام تخلف و تخطی میکند، میتوانید علیه آن اعتراض و شکایت کنید**





که ګورئ چې څوک د نوم ثبتونې د بهیر له مقرراتو څخه سر غړوي، وربانديې اعتراض وکړئ او پر ضد یې شکایت درج کړئ.

## شکایت څنګه، څه وخت او چیرته درج کیږي؟

۱. شکایتونه کولی شي د نوم ثبتوني د بهیر په هر پړاو کې تر سره شي.
۲. شکایت کیدی شي د نوم ثبتوني په مرکز، د نوم ثبتوني د مرکز د مدیر په دفتر، د ټاکنو په ولایتي دفتر او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په مرکزي دفتر په کابل کې صورت ومومي.
۳. شکایتونه کیدای شي د شکایتونو د فورمو د لارې چې د نوم ثبتوني په ټولو محلونو کې شتون لري صورت ومومي،که څه هم هغه شکایتونه چې د نورو فوټنشلیکونو د لارې صورت مومي، هم منل کیږي.
۴. شکایت کوونکي به خپل شکایت بشپړ کړي او هغه به په محرمانه توګه د محل رییس ته وسپاري. د ضرورت په صورت کې، شکایت کوونکی کولی شي د شکایت د فورمې د ډکولو په برخه کې د نوم ثبتوني د محل د رییس څخه مرسته وغواړي.
۵. هغه شکایتونه چې د مرکز د مدیر لخوا نشي حل کیدلی او یا هغه شکایتونه چې په مستقیمه توګه د مرکز مدیر ته راجع شوي دي، د پریکړې په موخه د ټاکنو ولایتي دفتر ته لیږل کیږي. د ټاکنو ولایتي دفتر باید د ۳ ورځو په ترڅ کې په دغه اړه پریکړه وکړي.
۶. هغه شکایتونه چې د ټاکنو د ولایتي دفتر لخوا نشي حل کیدای، د پریکړې په موخه دې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته کابل ته ولیږدول شي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه به قطعي وي.

## عمده پیغامونه

- د یوه غوښتونکي د شرایطو د پوره والي پرخلاف صرف هغه مهال اعتراض تر سره کیدای شي چې هغه افغان نه وي، ۱۷ کلن نه وي او د ټاکنو پر ورځ د ۱۸ کلنی عمر ته نه بشپړوي.
- پر شرایطو پوره افغانان او د سیاسي ګوندونو استازي کولی شي د یوه غوښتونکي د نوم ثبتوني د تر سره کیدو څخه مخکې پر هغه اعتراض وکړي.
- د رای ورکووني د نوم ثبتوني پر شرایطو پوره ټول افغانان او د سیاسي ګوندونو استازي د خپلو ګوندونو په استازیتوب کولی شي خپل شکایتونه درج کړي.
- هغه شکایتونه چې د ټاکنو د ولایتي دفتر لخوا نشي حل کیدای، د پریکړې په موخه دې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته کابل ته ولیږدول شي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه به قطعي وي.
- کله چې د رای اچوونې پر شرایطو پوره کوم افغان او یا د کوم سیاسي ګوند استازی په دې باور وي چې د نوم ثبتوني د بهیر په دوران کې د ټاکنو د قانون د موادو، د نوم ثبتوني د لایحې، د نوم ثبتوني د طرزالعملونو،د کارکوونکو د کړندودونو